# د "دراوۍ" په حقله ديو څو عمومي تېروتنو تنقيدي جاج

## A Critical Analysis of the popular misconceptions about the cultural practice of *"Dra'wai"*

ډاکټر برکت شاه کاکړ*

**Abstract:**

The study of Pashtun's culture witnesses an overarching diversity. There are different cultural zones that further make the sub-cultures. Like other patriarchal societies, Pashtun traditional society is also characterized as misogynist and anti-women. This paper is going to unpack an interesting dimension of the cultural practice called "*Dra'wai*" synonymous to "Courtship" in terms of spirit and practice. The cultural zone sprouted in the historical Zhob valley (Northern Balochistan) possesses distinct values which allows meet-ups of the men and women (above the age of adolescence). "*Dra'wai*" which literally denotes the "Space of meeting" has been recorded as one of the vital social practice that has kindled the creation of distinct cultural and folkloric features in this part of the province. This practice has long been recorded in the annals of orientalists, who totally misjudged the practice and tag it as a binary to the code of *Pashtunwali*. The Pashtun writers who did not know or ever practice "*Dra'wai"* have also confused it with some sort of other cultural practices and spaces. This paper is going to unpack the popular misconceptions that are spread from time to time regarding "Dar'wai". The paper also tends to explain what "*Dra'wai*" actually was and what not.

**Key Words**:Pashtunwali, subculture, courtship, folklore, space, patriarchy,

### د "دراوۍ" پس منظر:

د يويشتمي صدۍ د دويمي لسيزي پر ختمېدو لا هم زياتره پښتانه په کليو او بانډو کښي اوسي او د خپل تاريخي او روايتي ژوند دود سره سم ګزران کوي- په دې چاپېريال کښې که يوې خوا ته د پښتو اکاډميائي ، جديد صحافتي ، ادبي او تحقيقي روايت غاړه ډېره نه ده هسکه کړې. نو بل پلو ته د پښتنو لساني يا ژبني روايت، فوکلوري تخليقاتو او د ژوندتېرولو ناليکلي دود دستور اوس لا هم دُومري توانمن دی چي د اولسي ژوند ټولي اړتياوي پوري کوي- زياتره پښتون اولس اوس هم هغۀ ډول په قبيلوي ډلو کښې پر خپلو خپلو مځکو مېشت دی لکه څه ډول چي د مغل امپراتور ظهيرالدين بابر په وخت کښې ۀ، يا بيا د ستر خوشحال او احمد شاه بابا په وختونو کښې چي پراته وو- پښتانه چي پر کومو سيمو پراته دي، هغه سيمي بېل فطرتي کړۀ وړه

* Assistant Professor,Department of Pashto,UOB

او قدرتي وسائل لري، چي ورڅخه ځانګړي معاشي او ټولنيزنظام په وجود کښې راځي- دغه طبعي (قدرتي) او معاشي شته مني په حتمي ډول د کلتور په رغښت کښې خپل بنسټيز رول لوبوي- چيري چي پښتانه د پښتونولۍ په ناليکلي دود دستورسره تړلي دي، هلته د پښتونولۍ په دې دود دستور کښې هم ځای په ځای بدلون تر سترګو کيږي- دغه بدلون او بېلوالی په اصل کښې د پښني کلتور د حرکي مزاج نخښۀ ګڼل کېدی شي- چونکه کلتور يو انساني تخليق دی او مخصوص قدرتي حالاتو او معاشي ارزښتونو په ترڅ کښې خلګ بېل ارزښتونه لري، ځکه د کلتور ځانګړي مادي او معنوي پانګې په وجود کښې راشي-

سهيلي پښتونخوا د نورو پښتني سيمو او کلتوري حوضو په مقابل کښې خپل ځانګړی کلتوري مزاج لري. که څه هم د دې سيمې ټول پښتانه د پښتونولۍ په ناليدلي، خو نه شلېدونکي جلو د نړۍ د نورو پښتنو سره تړلي دي. خو ځيني داسي خصوصي کلتوري او ټولنيزي پانګي شته چي په نورو سيمو کښې يې څرک نه موندل کيږي، او يواځي يې دلته د سهيلي پښتونخوا په لرغوني کلتور کښې خپل وجود سالم ساتلی دی-

په دې مقاله کښې د سهيلي پښتونخوا د ږوب د ناوې يو لرغونی کلتوري عمل "دراوۍ" ته پاملرنه شوې ده، چي په اولسي سويه يې پېژندګلو شته خو په علمي او ادبي حلقو کښې ډېره پاملرنه نه ده ورته شوې- البته يو څو ماتي ګوډبي حوالې چي زموږ ومخ ته دي هغۀ تر ډېره حده سرسري، ناکافي او د تېروتنو ډکي دي. په دې مقاله کښې هڅه شوې ده چي د دراوۍ پر کلتوري عمل بشپړۀ رڼا واچول شي. د دراوۍ په حقله چي کومه بيانيه دلته وړاندي شوې ده يا کومه څېړنه او پايله چي منځ ته راغلې ده،د هغۀ لپاره معلومات نېغ په نېغه دږوب، قلعه سيف الله، بوري (لورالائي) سنځاوۍ او دوکۍ ، موسی خيل او کوهلو، د هغۀ وګړو څخه اخيستل شوې ده چي پخپله د دراوۍ برخه پاتي شوي ؤ. د تحقيق د طريقه کار له جهته دې ته موږ (Purposive Random Sample)وئيلی شو.

د معلوماتو په راغونډونه کښې البته يو اړخ بيا هم شنډ پاتي شوی دی، هغه دا چي کومو ښځينو چي دراوۍ کوله هغوی دې عمل ته څنګه کتل او د هغوی د معلوماتو له مخې يوې انجلۍ يا ښځې ته په دې عمل کښې کوم شې غوره ښکاريده او څه ډول ستونزي او مشکلات ور پيښ ول. په دې حقله ښائي د ځيني ميرمنو پلټونکيو مرسته واخلو او د هغوی په مرسته دا اړخ هم را کيندو.

**دراوۍ په پښتو لغاتو کښې:**

"دراوۍ" په اصطلاح هغۀ ځای ته وئيل کيږې چيري چي يو ځوان او يوه پېغله د مجلس لپاره راځي، ناسته کوي، د شپې تر پخېدو يا د سحار تر سپېدو خپل مجلس ته دوام ورکوي، دا ځای عموما د کلي يا کور څخه ليري په يو ميدان کښې وي، د جار (د کور او کلا سره جوخت

باغیچه یا باغ) میان وي، ، یا مانده وي، کڅونه وي یا بیا بل داسي ځای وي چیري چي د شپې له واره د نورو خلګو هلته تګ راتګ نه وي۔

د دراوۍ توری د سوهیلي پښتونخوا په ځیني سیمو کښې د واده یا کوزدې د نیتې ټاکلو لپاره هم کارول کیږي- خصوصا په سنټپا کاکړانو کښې دغۀ اصطلاح د واده د خلاصي لپاره کارول کیږي. د پښتو ښېلابیلو قاموسونو لکه تشریحي قاموس ، د ذاهد پښتو ، پښتو سنده،د احمد ولي اڅکزي البته د دراوۍ په حقله تفصیلات راوړي دي، خو دلته په دواړو قاموسونو کښې دا توری په پرته" ې" لیکل شوی دی- دکابل د سائنس ادکاډمي آن لاین تشریحي قاموس دراوۍ داسي را پېژندلې ده-

[drāwāy ] (نر، م ) 1–نښه، نښاني، ځای؛ یوه نښه، نښانی یا ځای سره ټاکل چي هلته به دوه یا څو ملګري د تیتیدو ځخه وروسته بیا سره راټولېږي" (1)

هم دغه ډول احمد ولي اڅکزئي هم پخپل پښتو انګلیسي قاموس کښې دراوۍ داسي را پېژني.

[drāwāy] (n.m.) sign, indication; wave, motion, gesture; index, mark; cross; evidence, token, tag, tick; stamp, stain, spot; label, brand, type, kind (2)

د ذاهد مشواني آن لاین قاموس هم نږدې نږدې هغه خبره کړې ده کومه چي په لوړو قاموسونو کښې موږ ولوسته. یوه مهمه خبره دا ده چي دلته هر قاموس دغه د تذکیر صیغه یاده کړې او لیکلې ده. ذاهد مشواني په خپل قاموس کښې داسي لیکي:

[drāwáy] (نر، م) نښه، نښانه، ځای. (3)

هم دغه ډول د محمد اکبر وردګ پښتو فرانسیسي قاموس کښې دراوۍ د لږ و کم توپیر سره هم داسي یاده کړې وه-

لنډه یې دا چي دراوۍ په ټولو قاموسونو کښې د ځای، نخښې، نښانې، شګون، علامت، اشارې، او ملاقات لپاره کارول شوې ده-

**د"دراوۍ" تاریخي کړۀ وړۀ** :

د دراوۍ په حقله له موږ سره لیکل شوي مواد یا داسي علمي حوالې کمي دي چي د بشپړۀ اکېډمک ، ایتناګرافک څېړنو ځخه دي تر موږ پوري را رسېدلي وي او موږ دې ورباندي د یوې باقاعده تهیوري اډانه کښېږدو- د دې علت یقینا دا دی چي د نورو ډېرو روایتي او کلتوري پانګو غوندي دراوۍ د یوه ژوندي کلتور برخه پاتي شوې ده- ځکه په دې حقله د لیکني یا علمي څېړني ارزښت نه دی محسوس شوی. په زړه پوري خبره دا هم ده چي په سهیلي پښتونخوا کښې د پښتو و فوکلوري پانګي ته زیاتره هغو لیکوالانو او پلټونکو پاملرنه کړې ده چي د هغۀ کلتوري ساحې د کلتوري عمل برخه نه دي پاتي شوي. په نولسمې مېلادي صدۍ کښې ختیځ پوهانو دې لور ته مخه کړې وه، او په شلمې صدۍ کښې دې خوا ته هم هغو کسانو مخه کړې وه چي د پښتنو

د لويو يا کوشني ښارونو کښې يې تعليمي يا تحقيقي وظيفي درلودې. البته په مشخصه توګه داسي پلټنې يا څېړني منځ ته نه دي راغلي چي هغۀ د دې سيمي کلتوري کړۀ وړۀ په جزياتو کښې داسي مات کړي چي بشپړۀ وجود يې په علمي توګه راڅرګنده شي -
البته ځيني ليکوالانو د دراوۍ په حقله څرګندوني کړي خو په برڅېرن ډول يې دا عمل بيان کړی دی- خان شهيد عبدالصمدخان په خپل ژوند ليک کښې يو بشپړۀ مضمون د "مجلس" تر سرليک لاندي په دې حقله ليکلی دی، هغۀ په دې مضمون کښې دراوۍ داسي بيان کړې ده:

" د واده وړاندي هره پېغله ښځه دا واک لري چي د ورځې ياد شپې د هر چا سره چي يې خوښه وي ناسته پاسته کوي، دې ته "مجلس" وای، په دې مجلس کښې د بدکارۍ نه سپوا نور هيڅ بندښت نه وي-"(4)

د خان شهيد پر اند يا دريځ به خبره وروسته کوو، خالي دا خبره په پام کښې نيول پکار ده چي دراوۍ د نر او ښځي تر منځ د مجلس و عمل ته وئيل کيږي-
په هر حال د دې لرغوني دود په حقله د بوري ګزېټئير هم څه مات و ګړوب معلومات راوړي دي- لکه د کاکړي هندوانو او د مېختر د کاکړ حمزازئ قبيلې د نرانو او ښځو ګډ اتڼ (برګه امئ) چي يې ياده کړې ده خو د دراوۍ په حقله د هغوئ معلومتا بېخي کم دي او د يو عادي ختيځ پوهه پر پلو تلونکئ لالاهتورام او د هغه سره ملګرو نورو منشيانو دلته دا تېروتنه کړې ده چي دراوۍ يې د نورستان د زرتشتو د يو دود سره ورته دود يې بللی دی، چي ميلمه ته د شپې له واره ښځه يا انجلۍ استول کېده. د بلوچستان ايالت دکلتور د ډائيرکټريټ په مرسته د دريم ځل لپاره چاپ شوي د لورالائي په ګزېټئير کښې دراوۍ په داسي نظر کتل شوي دي.

"A curious custom among the Sanzarkhail, Zakhpail, Dummars and Pechis was to supply a grown up girl to a friend a relation or a man of position and influence, for entertainment (*majlas*) , when he happened to eb a guestand the custom was so far respected that in the absence of the girl in the host's family he considered it his duty to obtain the loan of a girl from one of his friends, relations or neighbors. This custom which is now on the decreased occasionally led to abuses"(5).

**ژباړه:**

"په سنزرخيل، زخپيل، دومړ او پيڅيانو کښې يوحيرانونکی رواج دا ؤ چي هغوی به و خپل ملګري، عزيز و قريب، يا د لوی رتبې او اثر ورسوخ و خاوند ته يوه غټوکې انجلۍ و لېږله چي د هغۀسره ساعت تيری يا تفريح (مجلس) وکړي، کله چي يو څوک دلته مېلمه شي نو که د کوربه په کور کښې انجلۍ نه وي نو له بل ملګري، عزيز و قريب يا ګاونډ څخه انجلۍ پور کړي او مېلمه ته يې وړاندي کړي. دغۀ رواج اوس مخ پر ختمېدو دی چي ورڅخه په ډېرو صورتونو کښې شخړي او ستونزي پيدا کيږي".

د دراوی په حقله د یورپي او انګریزي استعمار دغه ډول ختیځ پوهانو داسي تېروتني کړې دي لکه څه ډول چي هغوی د پښتنو د نسل، ژوند ژواک او کلتور په حقله کړې دي. که چیري موږ د ګزټیر د دې دعوې څېړنه وکړو نو لوړ لیکل شوې حواله پرته د ځایي کلتور او اقداري نظام څخه د بیګانګیت او ناپوهی بل هیڅ علت په مخه نه راځي. لکه څه ډول چي لفظ "تفریح" یا "ساعت تیری" د مجلس هم معنا لیکل شوی دی، او دا چي مېلمه ته انجلۍ وړاندي کیده ، دغه تېروتنه لیکوال پخپله د ډېرو سپین ږیرو څخه پوښتلې ده خو هیچا یې هم تصدیق و نه کړ، البته داسي ډېر غاړې سته چي یوه انجلۍ خپل ملګري ته دا پیغام ور کوي چي د شپې وخت دی، د حالاتو باور نشته، نو ته یواځې مه راځه، لکه په دا لاندي غاړه کښې چي لیک ده.

ته به هم یو دوست لرې ګرانه یکړ څله راځې

لنډه دا چي په دراوی کښي پېغله او ځوان مخامخ سره ناست وي، او که چیري د هلک سره ملګری هن راغلی وي نو هغهٔ د هغوی څخه پر لږ واټن ناست وي، تر دې چي د هغوی خبري اوري او کله نا کله خپله خبره هم پکښې وکړي.

هم دغهٔ ډول اُستاذ سید خیر محمد عارف په خپل اثر کښې دراوی په داسي ټکو بیان کړې ده-

"دراوی بورجل، ددوو مینو د ناستي ځای، په اصطلاح د مجلس معنا هم ځني اخلي"(6)-

ښاغلي سلطان صابر د کاکړي غاړو د في البدیه شاعري او د هلک او انجلۍ تر مینځ آزادانه تعامل ته د هندوتهذیب پاتي شوني برخي ګڼلي دي، هغهٔ دراوی د سوئمبر د رسم دوام ګڼي یابیا د ایراني رسم "جشن مرد ګیران" سره د دې ریښه مښلوي- هغه په خپله یوه مقاله کښې لیکي:

"لڑکا اور لڑکی فی البدیہ شاعری کرتے ہیں، ان میں کوئی خبث باطنی پہلے سے موجود نہیں ہوتا، بہر حال یہ رسم غیر اسلامی نہیں ہے، اور ہو سکتا ہے کہ قبول اسلام کے ابتدائی دور میں انہوں نے لڑکیوں کو زیادہ آزادی دی ہو یا اس سے پہلے بھی اگر موجود تھا تو قدیم ہندو تہذیب میں "سوئمبر" کی باقیات میں سے ہیں، اور اگر ان لوگوں کو قدیم کاسیوں کی اولاد سمجھ لیں تو پھر قدیم ایرانی رسم "جشن مرد گیران" کازوال پذیر شکل ہو گا۔"(7)

جشن مرد ګیران چي په لرغوني ایران کښې د پسرلي په موسم کښې جوړېدی په اصل کښې دانجونه لپاره یوه موقع وه چي د خپل مېړه یا خاوند انتخاب دي وکړې شي- ډکشنري آن لائین آبادیسي په دې حقله دا رسم داسي بیانوي چي په

"اوسني ایران کښې هم دا رسم په څه نه څه بڼه شتون لري چي د مارچ په اولو پینځو ورځو کښې ترسره کیږي، دا بنیادي طور رقص و سرود رسم دی چي ځوانان او انجونه ګډه پکښې برخه اخلي. (8)

خو دراوی له دې عمله بېخي بېله ده، ولي چي که چیري د ږوب په دې تاریخي ناوه کښې په عام توګه و نجونو ته د ژوند د ملګري د انتخاب حق ورپه برخه وای نو موږ دا خبره منلې شوه چي

دغهٔ رسم د "جشن مردګیران" یو پاته شونی عکس دی۔ همدغه پوښتنه خان شهید هم پخپل مضمون کښې راپورته کړې ده چې دې ته موږ د نه خو د

"انګرېزانو کورټ شیپ وئیلی شو او نه د امریکې ډېټنګ".(9)

جالبه لا دا هم ده چې دغه اختیار نه خو د خان لور لري، نه د ملا او نه د عام نادار، غریب او لاچار کس د کور انجلۍ۔ خو دراوۍ هم داسې یو عمل دی چې د کلاس یا طبقې طاقتور زنځیر یې نه شي تهم کولی، انجلۍ که د مارۀ کور وي که د مسکین، خو دراوۍ کول او ددراوۍ له لارې مشهور کېدل او په غاړو کښې یاتدېدل د هیڅ میار (شرم) خبره نه ګڼل کېده.

**د دراوۍ په حقله ځیني نوري تېروتنې:**

د دراوۍ په حقله د سهیلي پښتونخوا د ځینو نورو سیمو لکه پښېن، قلعه عبدالله، کوټې او نور یو غلط العام تصور دا دی چې د بوري(لورالاټي)، ږوب او نورو ذکر شویو سیمو کښې انجونه یا زناني د شپې له واري د میلمنو ته ور استول کیږي. دا هم یو داسې تاثر دی لکه چې د الفنستین د شمالي پښتونخوا د هزاره سیمي یا د نورستان (چې اوس کافرستان بلل کیږي) یو رسم "کوربستان" پر ټوله سیمه اطلاقوي چې په کوم کښې زنانه میلمه ته لیږل د میلمستیا یو رسم یاد شوی دی. (10)

هم دغه رسم په تاریخي رمزیه نظم "الیاډ" کښې د نړۍ نامتو شاعر هومر هم یاد کړی دی چې د "ټروی" د باچا "پریام" کشر زوی "پېرس" ته یوه مینځه استول کیږي.

خو د دراوۍ په حقله موږ ته په پښتو یا نورو ژبو کښې داسې څېړني مخته نه دي راغلي چې موږ یې د بشپړه کلتوري او ټولنیز چاپیریال په چوکاټ کښې و سنجوو. په عام ژوند کښې هم په دې حقله خبره داسې کیږي چې دراوۍ ښه عمل دی یا بد.دا د دوه رنګۍ(Dichotomy) یوه داسې ناروغي ده چې زموږ د اوسني ټولنیز ډسکورس بنیادونه وربانديې ولاړ دي. د دې علت به هم دا وي چې په کومه ټولنه کښې خلګ په عام خبرو کښې بیانونه (Statements) یا پرېکړې (Judgments) کوي. هم دغه ستونزه دلته هم پېښه ده.

البته په دې حقله ځوان لیکوال ابراهیم ارمان پر آن لائن یوه مجله خپله لیکنه خوره کړې وه چې د دراوۍ ډېر اړخونه یې روښانه کړي ؤ. په دې حقله ښاغلي ډاکټر صادق ژړک هم یوه مقاله د "بلۍ او دراوۍ" تر سر لیک لاندي په پښتو-انګریزي تحقیقي مجله چاپ کړې ده. خو د ژړک صاحب معلومات اور څېړنه په دې حقله نابشپړۀ او د قناعت وړ نه دي. یو پلو ته دراوۍ او بلۍ چې دوه بیخي بېل ټولنیز امکانات دي سره پرتله کول او بیا د دراوۍ په حقله د هغهٔ د فکر سره د اختلاف ډېر امکانات شته. د بیلګي په توګه هغهٔ په دې اند دی چې "د ځینو خلګو دا خیال دی چې دراوۍ له جنسي خواهشاتو پاک او سپېڅلي میني یو

روايت دی،دا نظر ښايي تر يوې اندازې مسلم هم وي، خو د داسي څه ټاکلي اصولو په باب څه ثبوت او سند په لاس کښې نه لرو" (11).

په روايتي يا شفاهي ټولنو کښې هيڅ يو داسي کلتوري عمل شتون نه لري چي مبهم دي وي، يا د نورو وګړو څخه وډر وي. ټولنه په يو فطري چاپيريال کښې راګيروي. د پښتنو د نورو کلتوري ساحو غوندي دلته هم هرکلتوري عمل خپل اصولونه ، قدرونه او نرخونه لري. دراوی هم بشپړۀ ناليکلي اصولونه لري.په هغه اُصولونو هغه ټول وګړي خبر دي چي په هغۀ کلتوري چاپېريال کښې اوسېږي. د دراوی موضوعات، وخت، ځای، د ناستي پاستي انداز، د خبرو پېل، منځ او پائله ټول د يوه کلتوري عمل په نتيجه کښې وجود مومي.

د دراوی په حقله بشپړۀ معلومات نه درلودل زما په نزد هغه کلتوري خواندګي يا تناظر څخه د غير حاضر کېدو علت دی چي يو کس پر دې و ګوماري چي هغه د نيم رشتيا بشپړه و ګڼي. د بوري (لورالائي) يو کليوال سپين ږيري (عبدل شيخ) چي په ځوانی کښې يې ډيري دراوياني کړي وې. د دې مقالې لپره چي د هغۀ څخه وپوښتل شول نو هغۀ ؤ وئيل چي " د دراوی لومړی اصول دا دی چي دغه به وچ مجلس وي، په دې کښې نه خو نوري خبري ورګډيدی شي او نه څه داسي د ناجائزو خواهشاتو هيله کېدی شو چي ممانعت يې په پښتني ټولنه او اسلام کوي".

و بل پلو ته په غاړو او نورو فوکلوري اصنافو کښې هم د هغو خلګو ډېره زياته غندنه او محاسبه شوې ده چا چي په دراوی کښې د څه ډول جنسي خواهش اظهار کړی وي. انجلۍ به بيا په ټولو خوندکيانو کښې د هغۀ د کردار څخه پرده پورته کړه او هغه به په ټولنه کښې بيا په ټيټو سترګو ژوند کاوه.

د غاړو د متن څېړني يا د بېلابيلو مشهوره دراوی کونکو د قيصو څخه مونږ دې حقيقت ته رسو چي د دراوی ټولنيز جواز هم په دې هوډ کښې شتون درلود چي ځوان او انجلۍ به د هغه اخلاقي سرحدونو خيال ساتلود کوم ځلي چي ټولني جوړ کړي ؤ- بل دا چي دراوی خپل ټاکلي اُصولونه لري. دراوی د شپې کيږي ، زياتره وخت په تروږمی کښې کېده. د کور سره نژدې په جار (مامته) کښې به کېده يا به بياد کلي پر يوه داسي څنډه کېده چيري چي به د خلګو تګ راتګ نه ؤ.

**دراوی ځای او مجلس**:

دراوی ته ځيني خلګ"مجلس" يا بيا په اصطلاح "وچ مجلس" هم وائي- ځکه نو دغه توری په دوه مفهومه کښې کارول کيږي- په يوه وخت کښې مجلس ته هم وائي او هغه ځای ته هم چيري چي مجلس کيږي- د بېلګي په توګه يو انجلۍ د ځوان سره په "کڅو"او "رغو" ، کښې دروای کوي، په غاړه کښې يې داسي ذکرکړی دی-

| | |
|---|---|
| زما و ستا دراوی کڅونه | ګرانه يو به مو سي رادونه |
| پر دراوی مه نۀ که پوه | پر بر رغو ولاړه ګرانو |

له دې پرته چيري چي دغه ناسته کيږي، هغهٔ ځای وختي ليا د انجلۍ يا ځوان له خوا ټاکل شوی وي- د بېلګي په توګه هلته هلک د ورځي لا يو ځلي جوړ کي، يوه نخښه پرېږدي، او بيا دغهٔ د انجلۍ همت دی چي هغه نخښه او ځای پيدا کړي- د بېلګي په توګه يوه ځوان چي د انجلۍ لخواد دراوۍ پېشکس ورته شوی خپله خاطره داسي وړاندي کړهٔ، "زه د جار په ميان کښې ناست وم، يو وړوکی هلک راغلی، مالره يې درې د باکس کانۍ راکړې، ما ځيني پوښتنه کړهٔ هغهٔ راته ؤ وئيل چي هغه چورۍدا درې د باکس دانې (کانۍ) راکې، د دې مطلب دا ؤ چي زه چي ماخوستن کوم ځای دراوۍ کول غواړم بايد دغه درې د باکس دانې پرله پسې بلي کړم نو دغه ځای به ښناني شي او هم دغهٔ به د مجلس ځای وي- د دراوۍ د ځای په حقله ځيني نوري غاړې دا ډول شته- په ځينو غاړو کښې د دراوۍ ځلي هم ياد شوي دي، يعني د ناستي ځای د ځلو په جوړولو ټاکل شوی دی، د بېلګي په توګه دا يوه غاړه:

زما و ستا د دراوۍ ځلي نيم وليار نيم نړې دلي
يو باکس بنډل بېړۍ خاوري مه کې ستا پر دراوۍ
پر دراوۍ د سوم غلطه ګرانه يم در ملامته
زماوستا دراوۍ خالي ده په روئبار کي غداري ده (12)

دروای ځيني وخت د فعل په توګه هم کارول کيږي- يعني که يو ځوان د انجلۍ سره د ناستي ځای او وخت ټاکي نو دا وائي چي "نن مي د شپې دراوۍ ده"، يعني مجلس دی، په دې حقله ډير غاړې داسي شته چي ورځخه دراوی د مجلس په معنا پکښې ياده شوې ده-

سرې ويده وې که بيماره زما دراوۍ ده که را خواره (13)
باران اوري شپه اُستری ده تربه و ځم پاته دراوۍ ده (14)

د پخوانيو غاړو د متن ځېړني ځخه دا هم ځرګنديږي چي دراوۍ د سړي يا ښځي لپاره هم کارېدله:

د مستک کلا خان جوړ کې زما دراوۍ مه کې خوابدګي (15)

**د "دراوۍ" وجه تسميه:**

اوس لږ دې خواته راځو چي "دراوۍ" دې عمل ته يا دې ځای ته ځله وئيل کيږې او د دې توري معنا ځه ده؟ په دې حقله چي ما د ږوب د ناوې د ډېرو کليوالو ځخه پوښتنه کړې ده - د هغوی مطابق ځوان او پېغله چي به د ناستي لپاره کوم ځای ټاکلی هغه به د کلي او کور ځخه وډر (پټ) ؤ، د مثال په توګه په باغ (جار)، کځې به وې، يا به د کلا شا وه- د مېږو او پسو کېږ به ؤ، د جار ( د کور سره نزدې باغيچه) ميان به ؤ، - په هرحال د انجلۍ لخوا به د ناستي ځای ټاکل کېدی، ځيني وخت به يې هلته د نخښې په توګه يو شی هم کښېښود، يا و درولو، نو يو امکان دا دی چي دغو توری د "دروی" يا درولو ځخه اخذ شوی وي او د درولو يا قائمولو يو لنډ فورم وي- خو دا يوه داسي اندازه ده چي تکيه ورباندي کول يا ورباندي قانع کېدل اسانه نه د ه-

**دراوۍ په سيمه پوري اړه لري که په قبيله پوري؟**

لکه څه دول چي وختي ذکر وشو چي کلتور او ژبه د يوې سيمي سره تړون لري، دا د هغه سيمي د بشپړۀ معاشي او پيداواري عمل په نتيجه کښې ژوندون مومي او د معاشي آلاتو او معاشي وسيلو سره بدلون او ارتقا کوي، ځکه نو موږ دلته نبغ دې خبري ته راځو چي دراوۍ د سهيلي پښتونخوا د ږوب په تاريخې ناوه کښې يو داسي لرغونی دود دی چي د پيل او ارتقا پړاؤنه يې تېر کړي دي، د نوي وخت د جديد زرعي ټيکنالوجي، جديد سکولنګ ، مذهبي ادارې، او په نورو ژبو کښې تعليم داسي لامل دي چي دغۀ عمل ته يې زښت زيات زيان رسولی دی.

په سيمه ايزه توګه دراوۍ د ږوب د ناوې په مينځنی سيمو کښې هم کيږي او د دې په ښېتيځو او جنوبي سيمو کښې هم، يعني که چيري موږ وګورو نو يو پلو ته دغه دود د قلعه سيف الله ته ور څرمه سيمو لکه خراسان، باديني، قمرالدين کاريز پوري غاړه غزوي او بل پلو ته د بوري (لورالائي) په ښېتيځ کي د موساخيلو، مرغۀ کبزئي، مېختر، او ږوب سيمي په ځان کي رانغاړي، هم دغه ډول د دوکۍ، سنځاوۍ، چوتېر،او کوهلو سيمي هم دغۀ ځانګړ ی دود لري- دلته موږ دراوۍ د يوې سيمي کلتوري پيداوار ګڼلې شو، خو دراوۍ د يوه خاص قبيلې سره موږ نه شو تړلی، د بېلګي په توګه د نوآباداياتي دور ضلعي ګزيټيئير دغه عمل يواځي د بوري تر کاکړانو پوري محدود ګڼلی دی- هم دغه ډول خان شهيد دغۀ لرغونی "دود" يواځي د کاکړ سنځرخيلو پوري محدود بولي، هغه پخپل خودنويشت کي ليکي:

> "د ښځو په حقله دا يو ناپېښنه دود لغړ په سنځرخيلو کاکړانو کي سته چي په بوري او ږوب کي پراته دي، ما بل هيچيري نه ليدلی اونه اورېدلي دي"-(16)

په زړۀ پوري خبره دا ده چي دغۀ "دود" يواځي نه چي د کاکړو پرته په نورو پښتني سيمو کښې شتون لري بلکه دغه عمل د کاکړو ، ترين او لونيانو د سيمي سره جوخت مېشته بلوڅو کښې هم ميندلی شو- پروفيسر غلام نبي ساجد بزدار چي د بلوچستان پوهنتون څخه يې خپله د ايم في ايل مقاله پر بلوڅي فوکلوري صنف "ډيهي" کړې ده ، په خپله مقاله کښې د "دراوۍ" ذکر په ډېر تواتر سره کړی دی-

د ساجد بزدار د ايم فل د مقالې څخه دلته يوه ډيهي د بېلګي په توګه راوړل کيږي چي خبره نوره روښانه شي.

*درائ داتی مناں شف تہارا*

*مئیں چٹی چھے اث ار مناں واڑ تھیں مارا*

**ژباړه**:" تا زه په توره بډه (شپه) دراوۍ ته راوغوښتلم، که چيري زه مار و خوړلم نو زما تاوان (خون بها) به پر چا وي؟"

هم دغه ډول په دې حقله ډېري نوري داسي ډيهياني شته چي موږ يې د غاړي سره پرتله کوملی هم شو او د دراوۍ د بشپړۀ کلتوري عمل کړۀ وړۀ هم ورڅخه را ټوکولی شو.

لکه څه ډول چي دراوۍ ته د پښتنو سره مېشته بلوڅان لکه مريان او بزداران "دراهي" وائي، په ځينو ماتو غاړو کښې له موږ سره هم دغه توری "دراهۍ" په غاړو کښې راغلی دی، د بېلګي په توګه:

د جانان دراهۍ له نه ورغم ولاړې خراسان له (17)

خو دراوۍ يواځي په کاکړو کښي نه بلکه دړوب په ناوه کښې مېشته بيلابيلو نورو قبيلو کښې هم شتون لري. د مري بلوڅانو پرته دغه دود په کهيترانانو کښې هم شته، چي د بوري د خيتيځ و لور ته پراته دي. کهيترانان و دې ته دوستي هم وائي او دراهي هم . د هغوی په فوکلوري ا صنفافو کښې يې زښت ډېر ذکر اوس هم شته- له دې څخه يوه خبره دا هم جوتيږې چي په پخوانۍ غاړو کښې دغه توری دراوۍ نه بلکه دراهۍ راغلی دی-

**دراوۍ او بلۍ دوه بېل کلتوري ګنجائيشونه**:

په ذکر شوې تکتو مجله کښې د ډاکټر صادق ژړک په خپله مقاله "بلۍ" کښې د دراوۍ او بلۍ يو ډول "دودونه" ګڼلي دي (18) -

لکه څه ډول چي بلۍ يو ځای دی، هم دغه ډول دراوی هم يو ځای دی- تر دغه ځايه خبره سمه ده- هم دغۀ ډول د پښتو فوکلوري شعرياتو چي څومري وده د ګُودر، ناور، ولنګ، او نورو داسي ټولنيزو ځايونو په وسيله کړې ده، هغۀ پر خپل ځای د منلو هم ده او د څېړلو هم، ولي چي فوکلور په مصنوعي توګه وده نه کوي، او نه داسي ده چي د ټپې، کاکړۍ غاړې، او نورو اولسي اصنافو د تخليق لپاره دي شاعران راټول شي او و تخليق ته دي ملا وتړې-

زما په نزد که په بلۍ را ښکاربدل وي، يا که "دراوۍ" ته تګ راتګ وي، په دواړو صورتونو کښې يې پښتني روايتي ټولنه د يو داسي عمل په نظر نه ورته ګوري چي پالل يې ډېر ارزښت ولري، او خلګ دې خپل کړې، په هر حال په دغه مخصوصه کلتوري چاپيريال کښې د دراوۍ او بلۍ ټولنيز جواز څومره دی پر دې به مخته خبره کوو-

**د دراوۍ ټولنيز جواز**:

دراوۍ ته د ږوب ،بوري، قلعه سيف الله، ډُکۍ او سنځاوۍ د پښتنو پرته زياتره نور پښتانه په ډېر معيوب نظر ګوري. د هغوی خواشيني هم دا وي چي پښتانه چونکه د ښځي پر حرکت او د شپې له واره د نامحرم سره د ناستي تصور هم نشي کولی او په داسي حالت کښې چيري چي ځوان او انجلۍ يواځي سره ناست وي، د هغوی تر منځ غير اخلاقي عمل نه واقعه کېدل امکان څنګه نه لري؟، که څه هم دا د يوه خاص کلتوري چاپيريال و وګړو ته د حيرانتيا وړ

خبره ده ،خو هغه د دې کلتوري عمل په کُلیت نه وي خبر- ځکه نو ډېر ژر خپله رایې جوړه کړي. دا هم داسي ده لکه د ګزیټیېر لیکوالانو خصوصا لالا هتورام او د هغهٔ انګریز همکارانو چي د دې سیمي د خلګو د کلتور او ژوند ژواک په حقله بي د څه تحقیقه رایي او روئیې جوړي کړي وې. د داسي خلګو ستونزه دا وي چي هغوی هغهٔ څه ویني کوم چي هغوی یې لیدل غواړي. د دراوی و ټولنیز جواز ته ځیر کېدل شاهد د هغوی دموضوع سره اړخ نه لګاوه-

په دې حقله که چیري موږ د دې سیمي د معاشي او طبعي خواصو ته ځیر شو نو په دې حقیقت به مو سر خلاص شي، دلته ټولنه په یوه وخت کښې کوچیانی هم وه او د هغه سره زرعي هم- یوه لویه برخه به یې په اوړي لېږدېدله، څاروي به یې څرول او د مني پر ختمېده او د ژمي په راتګ سره به کوچېدل پرېښوول او د ژمي په مینه کښي به یې واړول- په کوچیاني ژوند کښې د زناني پر حرکت بندیز لګول یا هغې ته د پرده کولو تاکید کول پخپله د کوچیاني ژوند د غوښتنو په خلاف خبره ده- ولي چي په دغه ژوند کښې د زناني طبعي برخه تر مېشته ژوند ډېره زیاته وي- د زناني په ټولنه کښې تګ راتګ، له کوره یا کېږدی باهر تګ څه داسي خبره نه ګڼل کېده چي څوک دي باندي خواشینی یا فکر مند شي- بل داچي که نارینه پر کور نه وي نو هم ښځه مېلمه پالنه کوي، مېلمه له کوره یا درشله شړل تر ټولو لویه نامردي ګڼل کیږي، ځکه ښځه که د پلار پر کور وي که د مېړه پر کورکښې ، په دواړو صورتونو کښې یې په ټولنه کښې حرکت جواز لري- هغه چي مېشته وي نو د څاروو لپاره خوراک پیدا کوي. د مړی د پخلي لپاره لرګي راوړي. د اوبو انتظام کوي او د لیري سیمو څخه اوبه راوړي. ځیني وخت څاروي څروي، او کله نا کله په کروندو کښې هم د پلار، ورو، مېړهٔ، یا د خاندان د نورو غړیو سره کار کوي. که چیري ښځه دا ټول کارونو کوي نو بیا د هغې مخ پټول، ستر کول یا نقاب پر مخ را ایله کول ناممکن کار جوړ سي. ځکه نو ټولنه له زناني هیڅ ډول داسي غوښتنه نه کوي.

دلته چونکه ټولنه تر ډېره وخته د کوچیاني اومېشته یا زرعي ژوندپه عبوري دور کښې پاتي شوې ده، ځکه نو خلګ داسي کورونه یا کلاوي نه جوړوي چي د کوچېدلو وروسته یې بیا ساتل یا رغول ګران کار وي- مېشته خلګ به زیاتر خوني جوړي کړې او د خونو خواوشا به هیڅ ډول دېوال یا کلا (دېوالونه) نه وو. دا هم داسي وه لکه څه ډول چي "کېږدی" پر بټ بیبان ولاړه وي، او د څلور و اړخونو ورڅخه ننداره کیږې، ځکه نو دلته کم از کم دېوال یا کلا د زناني د ژغورني، یا پټوني لپاره نه جوړېدې. او بل داچي چون زیاتره خپلوان نژدې سره اوسېدو، ځکه نو دا هم یوه مهمه خبره وه چي د خلګو یو پر بل باور ؤ، او یو له بله نه وېرېدل.

د بوري، قلعه سیف الله، سنځای او ږوب د بېلابیلو سپین ږیرو سره چي څه وخت د دې عمل د ټولنیز جواز په حقله خبره وسوه نو یوه نوې خبره دا منځ ته راغله چي "دراوی" د ټولني پر ځوان او پېغلي د مطلق باور نخښه دی. پېغله او ځوان د ټولني په احتسابي عمل هم خبر وي. ولي

چې به یوه ځوان د دراوۍ یعني مجلس پرته د بل څه هیله ښکاره کړه، نو د پېغلې د غضب نخښه جوړېږي- دا چونکه د نامردۍ، یا ناځوانۍ خبره وه، ځکه به هغه پېغلې د ده دې عمل ته په واز کومې د غاړې، یا بل صنف په وسیله ځواب ؤوایه، دا ډول به هغه په ټولنه کښې هم په پېغلو کښې هم ډېر بدنامه شو-

د دراوۍ ټولنیز جواز یو مهم سوب د خلګو یو دبل سره پېژندنه هم وه، یعني که به د ډېر لرې وطن یو کس هم راغلی او دلته به مېلمه ؤ، نو د خاندان او ټبر ټولو خلګو به هغه پېژندو. له دې پرته کوم خلګ چې سره مېشته وو هغه د کلتوري عمل په کلیت ښه خبر ؤ. د مېړاني تصور یې په وینو کښې غورځنګونه وهل، او د دراوۍ ډګار ته ورتګ هسې هم د هر کس و ناکس کار نه ؤ.

**د دراوۍ لپاره اهلیت:**

د دراوۍ عمل داسې نه ؤ چې د هر ځوان یا پېغلې پر خوښه یا خواهش به کېدی. د سنځاوۍ یوه سپین ږیري پر دې کلک یقین درلود چې دراوۍ د هر ځوان یا انجلۍ کار نه وي. ولې چې د دې لپاره د ځني قائدانه او مدبرانه صلاحیتونو ضرورت وي. د مثال په توګه هغه کس چې مجلس کولی شي، د مجلس په آدابو خبر وي. د سیمې په سیاسي، ټولنیزو حالاتوبه نظر لري، په خپله هم زړوروي، او د مېړاني یې یو څه قیصې چا لیدلي یا اورېدلې هم وې، نو د هغه ځوان سره ډېرې انجونه د لیدلو او مجلس کولو خواهش ښکاروي.

خو په دې لړ کښې د انجلۍ لپاره هم پکار ده چې هغه دې د کلتور او خصوصا د فوکلور بشپړۀ علم او خواندګي ( پوهه) ولري. په دود درک دې خبره وي، د سیمې د ښو مړو (هیروز) په حقله دې آګاه وي- د دې سره کوم خلګ چې د دې سیمې د دُښمنانو سره لاس لري د هغوی په حقیقت او کردار بائید خبر وي-او په دې ټولو خبرو کښې دا هم ده که چیري هلک یوه غاړه (شفاهي صنف) وایي نو باید انجلۍ د هغه په پس منظر پوره خبره وي. د یوې مثالي پېغلې سراپا چې کله خوشال بابا بیانوي نو په هغه کښې د ورښې کولو، پر باریکو نکتو باندې نظر درلودلو او نکته چیني یا تنقیدي وصف درلودلو صفات بائید په یوه مثالي انجلۍ کښې وي- هغه وایي:

که په هند کښې نشته سپینه هوسۍ سترګې مه جبینه
خدایه ته وما ته راکړې یوه سبزه نمکینه
د یارۍ په هنر پوهه سخندانه نکته چینه(19)

یاري کول یا مجلس کول یو هُنر وي، د دې هُنر زدهکړۀ په یوه خاص کلتوري چاپېریال کښې کیږي- که چیرې یو ډېر ځیرک ځوان وي ، د مجلس په رموزو هم پوهه وي، خو تر سو چې یې د دراوۍ اخلاقي ضابطه، د مخصوصه محلي یا ځایي کلتور، تاریخې کردارونو، ادبي او جمالیاتي احساسات ونه لري، دراوۍ نه شي کولی- د بېلګې په توګه کله چې دراوۍ پیل کیږې نو د روغبړ لپاره د هغو جملو تکرار نه کیږي کوم چې په عادي یا عام ژوند کښې کیږي.که

انجلۍ هلک ته ؤ وایي چي "ستړی مه سې! د دې ځواب دانه دی چي "خیر یوسې"، یا "خواره مه سې-" بلکه د بوري د دراوۍ یو نومیاتی کس دا وائي چي د لته به ځوان په ځواب کي ورته وائي چي، "بې خپلي ځوانۍ مه سې"-

لکه څه ډول چي د دراوۍ ځوان او انجلۍ د عامو وګړو څخه بېل وي هم دغه ډول د دراوۍ عمل د هغه خلګو لپاره ډېر نابلده وي چي د بلي سیمي وي یا یې روزنه د دې کلتوري حوضې څخه لیري شوې وي- د راوۍ یو عامه ناسته نه وي، او د دې ناستي محور مجلس وي، دغۀ مجلس هم داسي نه چي پر کاروباري موضوع وي یا د تعلیم او روزګار پر ستونزو وي، بلکه د دراوۍ مجلس چي زیاترو کسانو راسره شریک کړ ی دی دا دی چي دلته مجلس په رمز و کنایه کښې کیږي او بل دا چي د دراوۍ خپله ځانګړې ژبه( او طرز لري چي ځوانان او انجونه یې په مجلس کښې سره تکراره وي. د بېلګي په توګه د مېختر یو ملا چي د دراوۍ په دود ډېر خبر ؤ او خپله یې هم ډېري دراوۍ کړي وې، څخه په بازار کښې اوسېدونکي یوه تعلیم یافته ځوان پوښتنه وکړه چي که زه وغواړم ستاسي په سیمه کښې د یو انجلۍ سره څنګه دراوۍ کولې شم،هغه وخندل او وې وئیل ،دا خو هیڅ ستونزه نه ده ښه که چیري انجلۍ درته ؤ وئیل چي پر څه شي راغلی یې او پر څه شي ناست یې؟ ته به څه ځواب ور کوې- د بازار تعلیم یافته ځوان یو عادي ځواب ورکړ چي پر موټر سائکل راغلی یم او اوس لتا سره دغه یم پر مځکه ناست یم- خو ملا پر دې ځواب ډېر و خندل او وې وئیل چي زه خو هم دغه وایم چي د دراوۍ د بازار د ځوانانو کار نه دی، ستا ځواب بائید دا وي چي، "زه په بهر راغلی یم او پر دلیل ولاړ یم"-

د دې څخه موږ دې پایلي ته رسو چي دراوۍ د مخصوص کلتوري چاپیریال ، کلتوري او ټولنیز تاریخ، شعري او کیسه ایز فوکلور، او تر ټولو زیات د حاضر جوابۍ او حاضر دماغۍ یوه لوبه ده-

د مېختر یو بس ډرائیور په دې حقله خپله رایه داسي شریکه کړۀ:" دراوۍ کونکي انجونه له عام انجونه څخه ډېري بیلي وي، هغوی زړوري او پیاوړي هم وي او د مجلس په طرز هم پوهیږي. هغوی غولول، یا و هغوی ته داسي خبري کول چي ورڅخه غوړمالي و برېښې ، لالچ ، لوږه یا حرص ورڅخه ښکاره سي، نو بس دراوۍ هم هلته ختمه و بوله "-

په غاړو کښې پر دراوۍ( ځای) د سګرېټو ، بېړیو، او خوړو ذکر راغلی دی. ځوان لیکوال ابراهیم ارمان چي زیاتره وخت یې په لوښي او سنځاوی کښې تېر کړی دی په دې حقله راته ؤ وئیل:

"دراوۍ ته د راتلو په وخت انجلۍ عموما له ځان سره د خوړلو شی راوړي. کله وخت وچه مېوه وي او کله بل څه. ځوان هم له ځانه سره داسي څه راوړي چي له بازاره یې راوړي وي. دبیلګي په توګه له بازاره متهائي ، جلبۍ یا څه بل خوړ شی. خصوصا بېړۍ، سګریټ یا ګډو (پائیپ) د

ځوان سره هر وخت په جیب کښې وي. البته دا خبره پر خپل ځای ده چې په دراوۍ کښې ځوان دانجلۍ لپاره داسي بیش قیمته تحفه نه شي ورکولی چې وروسته بیا هغۀ د راوۍ د تعلق پر ځای د احسان یا تعبېدارۍ بڼه خپله کړي. مطلب دا چې ډېر خلګ و انجلۍ ته قیمتي تحفې ور واخلي او بیا د انجلۍ څخه غوښتنه کوي چې د دې احساناتو په بدله کښې اوس بائید هغۀ د ده هره خبره و مني".

یو ځوان انجلۍ ته په نخښه یا تحفه کښې څه ورلې شي، په دې حقله یوه بله په زړۀ پوري خاطره هم دلته درسره شریکه وم. د دې پلټنې په ترڅ کښې مي د بوري (لوارالائي) یوه کاکړ چې په ښار کښې چوکیدار ۀ، څخه یوه په زړه پوري قیصه واورېده چې د هغه د خپلي دراوۍ په حقله راته وکړه-

"په ځوانۍ کښې زه په یوه کلي کي شپه (شپانه) وم. د یوې چورۍ سره مي دراوۍ وه، نو هغه ډېره چټه او ذړوره وه. یو ورځ زه بازار ته ولاړم. کله چې راتلم نو مي د هغې لپاره کالي، ټیکرۍ ، بنګړي او جلبۍ واخیستې. د شپې چې موږ مجلس ته سره راغلو او ما ورته دغه نخښي (تحفې) ور کړې. هغه ایښۀ پېښه سوه، ډېره حیرانه سوه، او ماتي یې داسي په تېرو و کتل، وې وئیل چې "دا یوسه کورله او خپلي ادې (مور) ته یې ورکه. ته بای په دراوۍ ناولده یې، د هغۀ وروسته بیا هغې له ما سره دراوۍ ونه کړه "- (مرکه ، نیاز محمد اکا)

**د دراوۍ دفوکلوري شعر د زېږون ځای:**

که چیري موږ د کاکړیو غاړو، د اتن د نارو او د ښادۍ یا ودو د بدلو یوه لنډه موضوعاتي څېړنه وکړو، او د دې د تخلیق تر شا د اصل محرک ریښې وپلټو، نو په دې به ښه خبر شو چې دراوۍ د یو دوامداره لامل په توګه به پکښې څرګنده شي. د دې سیمي فوکلوري چې په عمومي توګه په دوو برخو کښې وېشل کیږي یعني د مړو غاړي او د ځوانۍ غاړي. د مړو غاړي رزمیه رنګ لري او د نارینه توب پر لار چې یو چا خپله ځواني تېره کړې وي، د مړاني کارونه یې کړي وي، پکښې د هغو ستائنه شوې ده. و بل پلو ته بیا موږ ګورو چې د ځوانۍ غاړي دي، چې پکښې د میني، بېلتون، دیدن، پردېسۍ رومانوي ذکر موجود دی. د غاړو دواړه ډولونه د دراوۍ د کلتوري عمل په سوب وده موندلې ده. ولي چې په دراوۍ کښې یوائې مجلس د میني، محبت او رومان نه وي، زیاتره ځوانان چې دراوۍ یې کړې وي په دې اند دي چې په دراوۍ کښې د سیمي د مېړنیو یا مړونو په حقله مجلس وي، هلک یاځوان چون ګښته وي، نو د انجلۍ هم دغۀ تلوسه وي چې د باهر د نړۍ مجلس واوري، خو د ډېرو مېړنو ذکر د انجلۍ او ځوان په کور کښې هم کیږي نو په دې لړ کښې موږ دا وئیلی شوچې د دراوۍ په چاپیریال کښې چې کومه بې ساختګي،او تخلیقي روح را پاریږي هم هغۀ بیا د تخلیقي اظهار داسي نوي او په زړۀ پوري پیرائې و موندي چې د فوکلوري صنفونو تخلیقي وضع نوره هم پیاوړې کړي.

د دراوې دې عمل که يوه لور ته پرېمانه او بډايه کلتوري او فوکلوري اصناف پيدا کړي دي نو بل پلو ته يې د مېړاني ، مړوښې، او ننګياليتوب ځيني داسي معيارونه هم ټاکلي دي چي بيا ځوانانو خپلي ځوانۍ ورته دود کړي دي- دراوې چي په ټولنه کښې د ښځي ټولنيز مهارتونه بهتره کوي، خو دراوې د مېړاني تصور ته ډيره وده ورکړې ده. چي پر ټولنيز ساختمان يې خپل ځانګړي اثرات ليدل کېدی شي، د دراوې او مېړانه تر مينځ جدلياتي اړيکه ښائي يو بېله تحقيقي مقاله وغواړي-

**دراوې او تروږمې:**

کليوال پښتانه عموما وايي چي که سپوږمې د مله ده نو تروږمې بيا د غله ده، دا يو داسي تصور دی چي دلته موږ ته د دراوې په حقله هم مخته راځي. د دراوې په حقله وختي هم ؤ وئيل شو چي خپل ټولنيز جواز لري. خو د وخت د تېرېدو سره چي چيري انسانان ډېر شو، مزهبي او عصري علم هم د دراوې د بنيادي روح په ځق کښې نه دی، په ټولنه کښې د نړګاړيتوب نوي تاويلونه لګيا دې خپله ارتقائي پلونه اوچتوي، ځکه نو دلته د درواې لپاره هم تروږمۍ و ټاکل شوه.

پخوا ژوند ډېر رسمي نه ؤ، کلاوي نه وې، دېوالونه هم نه ؤ، د مخصوص معاشي او سيمه ايزو حالاتو له سوبه د پېغلو او ښځو نقل و حرکت ، تګ راتګ ته هم څه اخلاقي يا مذهبي مسئله نه وئيل کېده- البته وروسته ښائي حالات بدل شوي دي- ډېري داسي غاړي شته چي موږ دا اندازه ورڅخه لګولې شو چي د دراوې لپاره د تروږمې شپې ټاکل کېده- لکه څه ډول چي پخوا به غلو د غلا لپاره د تروږمې انتظار کاوه هم دغه ډول به د دراوې مينانو هم د تروږمې په انتظار وو -

يو علت ښائي دا ؤ چي په ارتقائي توګه د دراوې پر دې ثقافتي ګنجائيش د تور او پېغور زنځيرونه را پېچل شوي دي- بل دا هم ؤ چي په زرعي او کوچياني سيمو کښې د سپوږمې په شپه د کار لپاره له کوره را وزي ، نو دغۀ مجلس چي يواځي د ځوان او انجلۍ تر مينځ وي ځيني وخت د نورو په سوب بې خونده هم سي، ځکه نو د دراوې لپاره زياتره ځوانان او پېغلي د توري بډي يا د تروږمې د شپې خوښوي-

د کټا ماښی به باسم که خدای توره تروږمې که(20)

په سپوږمې و ګران ته وزم خدای لرم نه به کښېوزم

زما او ستا دراوې پخه دتروږمې شپې دي راځه

د دې د ويمي غاړي څخه دا هم معلومېږي چي د دراوې په کارسره کښېوتل يا نيول کېدل هم تړلی ؤ- خو دلته داخبره د کولو ده چي د نيول کېدو په صورت کښې هيڅ داسي سزا به نه وه چي ځوان او انجلۍ دي ؤ وهل شي يا د هغوی سپکاوی دي وکړل شي-

کله چي انساني آبادي زياته شوه، کلي او کورونه لوی شول، د نورو سيمو خلګ دلته مېشته شول، کومه قبائلي يک رنګي(Homogeneity) چي دلته شتون درلود هغه کمه شوه، نو دلته د دراوۍ سره لړ و ډېر خطر هم تړل شوی دی، په دې لاندي غاړه کښې يوه انجلۍ د دې پديدې (Phenomenon) څرګندونه داسي کړې ده -

ته به هم يو دوست لرې ګرانه يکړ څله راځې (21)
قرآن مه دئ که بند سو بور که يو ملا وي څلور نور
انجونه تل په سپوږمۍ وځي اجل والي به کښېوځي(22)

**دراوۍ: په لرغوني، منځنۍ او اوس مهاله پېر کښې:**

دراوۍ موږ د عصر يا د ژوند د تېرولو د طرز په حساب په درو پېرونو کښې وېشلی شو، لومړی هغه چي ورته لرغوني دور وئيل کيږي، خلګ په يوه فوکلوري ټولنه کښې اوسېدل، په دوبي (ووړي) به يې کوچ کاوه او په ژمي به يې بيا پر يوه ځای مېشته ۆ- د ږوب د سيمي فوکلوري اصناف په ژمي کښې د يو ځای کېدلودې وخت ته دوصال او ديدن استعاره بولي- او کله چي به پر اوړمي ماښام سهيل راوخوت او د پسرلي بادونه به پيل شو، د مځکي له سينې به نازک او پاسته وښو ځېره ۆ وهله، نو هم دغه به د کوچېدو وخت ۆ- اوس به ټوله کورونه او کلی له دې ځايه کډه کوي،په ورښو ګانو پسي به لتېږي، او د خپلي روزۍ چاره به کوي، په دې وخت کښې اوس ميلنې يعني د ژمي مېنه پاتيږي او ټوله کورونه لکه مات شوي سيلونه تار په تار کيږي او سره پاشل کيږي -

د اتن يوې غاړې د دې ټول کوچياني او مېشته ژوند انځور داسي وړاندي کړی دی-

هېله هېله پر اُړمي ماښام راوختې سهيله
پرون ليا راسره وې نن به چيري يې د شنو کوتر سېله

د ږوب د ناوې کوچيان هغه وخت پاسه ختل کله چي به د ژمي يخ تېر شو او لمر به تر وريځ را ۆ وتله- مېلنې يعني د ژمي مېنه به يو وار بيا بر شوه او کوچيان به ځيني د خراسان پر لور او ځيني پر نورو سيمو بر شو- يوه غاړۀ چي د وران شوي مېلنې ذکر پکښې دی څه دا ډول ده-

اوړی رالی زمی تر سوی ستا ميلنې ليونو بر سوی(23)

دهري سيمي د کوشنۍ قبلو به خپل مېلنې ۆ، لکه په قلعه سيف الله کښې چي د سنځرخيلو دولت زيو مېلنې پر ترخه دولت زوی وټکی دی چيري چي، د علي خېل مېلنې خولګۍ په علي خيل کښې دی،

په هر حال په دې پېر کښې د دې سيمي د اولس د علم ، پوهي، کلتور او ادب ټوله اډانه پر خپل ځان وه. يعني خلګو خپل داخلي، جمالياتي، تاريخي او سياسي بيانيه په خپل انداز تخليق کوله او څرګندوله چي مهمه وسيله يې فوکلور ۆ- په دې ټولنه کښې د ښځي پر آزاد حرکت

هیڅ ډول قدغن نه ؤ- ځکه هغۀ د ټولنې یوه متحرکه غړې وه- په ژوند ژواک کښې یې تر ډېره حده د یو فاعل په توګه خپله برخه اخیستله- د هغې د حرکت په سوب د نارینه سره ملاقات ، خبري کول، د هغوی سره په لاس روغبړ کول، په اتڼ یا امۍ کښې د هغو سره برخه اخیستل، مېلمنو ته خوړلو او څښلو ضروریات برابرول هیڅ ډول معیوبه او د شرم خبره نه وه- په کوچیاني یا نیم کوچیاني ژوند کښې د بیټک یا د مېلمه د کېږدۍ یا خوني تصور هم نه ؤ- په اکثره کورونو کښې به مېلمه او د کور ټول وګړي په یوه خونه کښې سره مېشته ؤ- خو د دې ټولو ګنجائشونو باوجود ښځه او نر دواړه د ځینو اخلاقي قدرونو پابندوو-

په دې پېر کښې "دراوی" یو ټولنیز جواز پېدا کړی دی، د هلک او انجلۍ تر مینځ ملاقات هسې هم کیدی، د بېلګې په توګه کله چې به انجلۍ د "میا" یا "رمه" پوهول په وخت، د ګودر څخه د اوبو راوړلو، پر ولنګ د کالیو (جامو) پینځلو، د مرۍ پخولو لپاره د لرګیو یا څه نورو خس و خاشاک راوړلو په وخت له کوره باهر تله او راتله نو دا ګران کار نه ؤ چې له چا سره به یې لیدل کتل نه کېدل-

په هر حال د دې وخت ځیني داسي غاړي اوس هم له موږ سره خوندي دي چې د کوچیاني ژونداو د آزادۍ احساس سره مښلوي.

را ښکاره د سپین کږدۍ وزر کوم د خوشالۍ(24)
زیاته زه نیکان د مله سه سپوږمۍ پرېوته تیاره سوه(25)

په دې دور کښې چې دا ډول، موضوعاتو او په شاعرانه اوصافوپسولل شوی څومري فوکلور تخلیق شوی دی د هغۀ ځاری نشته- خصوصا د دې دور پخوانۍ غاړۀ، او د اتڼ غاړه دومره غني او بډایه ده چې د هرډول شعریت تقاضي پوره کوي. په ټولنه کښي د اجتماعي احتساب کوم عمل دلته قائم دی د هغه بیا وروسته بېلګه مختنه نه راځي، یعني د پښتونولۍ د ټاکل شویو دودونو یا د دې سیمي د اقدارو څخه چې چا سر غړونه کړې ده د هغه محاسبه په فوکلوري اصنافو کښې دومري په شدت سره شتون لري چې نن یې هم خلګ د متل په توګه یادوي-

د عصر له لحاظه ددراوۍ د دې کلتوري عمل دویم پړاو د کوچیانۍ څخه د زرعي او مېشته ژوند طرز و خواته دی، لکه څه ډول چې وختي و ئیل شو چې دلته د اولسونو په قبیلو کښې سره مېشته وي، مځکي د قبیلو، کهولو او خاندان کښې سره نزدې خلګ یو ځای سره مېشته وي. نو ځکه دلته د بیګانګیت یا پردیتوب هغۀ ډول د غیر محفوظ کېدو ستونزه نه وه. ځکه نو دلته هم موږ وینو چې د ښځي پر حرکت، د هغې په ټولنیز او ادبي ژوند کښې ګډون، یو احسن عمل ګڼل کېدی. خو دلته اولس ه کېږدیو څخه کلاګانو ته راغلۍ او د ښځي هغه ډول حرکت پاتي نه شو لکه څه ډول چې په کوچیاني ژوند کښې ؤ، په غاړو کښې موږ وینو چې د دې

طرز ژوند ډېره غندنه شوې ده، چې علت يې يوائې د انجونه پر آزادانه حرکت قدغن لګول ۇ، د اتڼ يوه غاړه کښې يو ځوان وايي

توري کړدی ښې دي، ماول توري کړدئ ښې دي ړت لړينه
چټه کې بندي ده، دا پخې کلا ده خدای و نړوينه

دلته اوس د دراوی ځاي بدل شو، د مېشت کېدو سره د جومات او په جومات کښې اوس د يوه ملا ځای هم و ټاکل شو. د يادولو ده چې د دې سيمي په ټولنيز کوچياني ژوند کښې د ملا کردار د يوه عام وګړي ۇ، او هغۀ د ټولني په کلتوري عمل کښې د څۀ خنډ اچولو پر ځای د هغه برخه جوړېدی.

په هر حال په زرعي دور کښې چې کله زراعت جديد شو، يعني د خلګو له ارزښتونو څخه يې اربه د منډی يا مارکيټ ولور ته واوښته نو دلته بيا د نوي طرز ژوند نوي نخښې نښانې رامنځ ته شوې- اوس دلته د هلکوانو او انجونو د تعليم خبري پيل شوي، ښارونو ته د ځايي خلګو کډه کېدل پيل شو، او په کليوال ژوند کښې هم ډېر توپير راغلی، د جديد زرعي مشنيری په سوب په ټولنه کښې يو پر بل باهمي انحصار کم شو او دغه د دې سيمي لرغونی کلتور هم د څنګلورو کلتورونو سره په تعامل کښې نوي منزلونو ته وزرې و رپولې-

| | |
|---|---|
| په ښکاره ده راسي ګران | نه دی اجل د کلا ميان |
| په کلا کې بندوي | غرقه وزر کوي راځي |
| په ګلی کي ږغ د ګران سو | پر ما اور د کلا ميان سو |
| د ځوانی د ډېر هوس دی | زما چکر د کلا نس دی (26) |

البته د زرعي دور يا جديد دور په قابئلي ټولنه کښې اوس دراوی هغۀ ډول ټولنيز جواز کم شوی دی .کومي انجونه چې د دراوی لپاره له کوره وځي هغې ته پخپل کور کښې د خور، مور، ورېنداري يا بلي زناني کومک پکار وي . خو په ډېرو قيصو کښې مور يا ادې د يو داسي غماز په څېر ياده شوې ده چې انجلی له مجلسه څخه را ګرځوي، او هغې ته اجازت نه ورکوي، د بېلګي په توګه ځيني داسي غاړه زمونږ و مخته دي چې پکښې د دې حقيقت غبرګون شوی دی -

| | |
|---|---|
| ږغ د وچ سه ادې روګي | وم تر ګرانه رسېدلګي |
| د ادې ښکنځا به وړم | د غوځی يم د سروبن |
| تا په ست ورته کاوی | ادې نامړدي چې ګران تلی |

په دې ذمانه کښې د دې سيمي ځيني خلګو د مذهبي علم د تحصيلاتو لپاره هندوستان ديوبند، کندهار، پېښور يا نورو سيموولاړ- څه وخت چې واپس راغلو نو يې دې عمل ته غير اسلامي وئيل پيل کړ، او ورو ورو يې دغه عمل په ټولنه کښې د يوې ستونزې په څېر را څرګند

کړ، او د دې لپاره چې په ټولنه کښې کوم جواز وجود در لود هغه يې په ډېره تکنيکي توګه له منځه يو وړ-

په جديد يا اوسني وخت کښې دراوۍ هغه ډول فعاله دود نه شو پاتي لکه په وروستيو دوو پېړو کښې چې ؤ- بوري، قلعه سيف الله، لوڼي، موساخېل ، مرغه، باديني، او نورو هغو سيمو کښې شتون لره چيري چې جديد تعليمي نظام،د سيل فون او د ميډيا اثرات لا نه دي رسېدلي او خلګ په خپل پخواني انداز ژوند تر سره کوي- د دې کلتوري عمل په شنډېدو کښې د نوي وخت د مدرسې ملايانو او طالبانو هم بنستېز رول لوبولی دی، اوس د دې ناوې په هغه مرکزونو کښې لکه د بوري، قلعه سيف الله، زيارت، سنځاوۍ، دکۍ ، ږوب او موساخيل په نوي بازارونو کښې چيري چې ژوند د يو صارفي کلتور په نرغه کښې راغلی دی ، د خوړلو د شيانو څخه بيا د اورېدلو او کتلو پوري ټوله د بل کلتور پيداوار وي، او د مذهب عقيدوي او عملي تصورات هم تغير خوړلی دی هلته اوس دراوۍ يو معيوبه عمل ګڼل کيږي او شتون يې کم شوی دی-

**پايله**:

دراوۍ نه خو د سوئمبر رسم دی، نه د پخواني ايران د "جشن مرګيران" پاته ښه ده، او نه دې ته موږ د زرتښتانو د تهذيب پاتي شوني وئيلی شو- تر دې دمه چې څه معلومات لرو د هغه له مخه درواۍ دلته په دې مخصوصه سېمه کښې د کوچياني ، نيم کاچياني او زرعي ټولنې يو داسي تخليق دی چې د پښتنو، بلوڅو او کهيترانانو د خوا و شا سيمو کښې بل هيڅ يو ځای شتون نه لري. د دې عمل اپوټه (برعکس) د مريانو سره مېشته سندهي کلتور او د ږوب د ناوې سره تړولي نوري پښتني سيمي هم په حقله نرمي نه لري. دراوۍ د کاروکاري يا د غېرت پر نامه دنر او ښځي د وژني يو برعکس يا اپوټۀ عمل دی. ځکه موږ دا وئيلی شو چې دغۀ کلتوري عمل هم دلته د ږوب د کلتوري ساحې تخليق دی.

دراوۍ د ږوب د تاريخې ناوې د اوسېدونکو ټولو قبيلو په خصوصيت سره د کاکړو په لرغوني کلتور کښې يو داسي "دود" پاتي شوی دی چې د ښځي د ټولنيز حالت او حيثيت ډېره ښه اندازه ورڅخه لګول کيږي- د دې عمل ټولنيز جواز هم دا ؤ چې که پر نر باندي باور کېدلی شي نو ښځه هم د دې وړ ده چې د خپل بشپړۀ انساني وجود اظهار دي په داسي توګه وکړې شي چې جنسيت پکښې يوه معمولي يا سيکنډري حېثيت اختيار کړي. دا نه يوائې د ښځي پر کرادري پياوړتيا ولاړ ؤ بلکه په دې کښې د نارينه توګ تقاضا هم دا وه چې که يوه انجلۍ په توره بډه (شپه) کښې د بيلابيلو خنډونو پرته هم مجلس ته راځي نو د هغې دغۀ هوډ او ننګ ساتل د دواړو ګډه ذمه واري جوړه شي.

ځومري چي په ټولنه کښې نرګاړي او ښځي د خپل لرغوني کلتور سره تړلې وو، هغومره يې د دراوۍ د "دود" سره اشنائي زياته وه. او هغه روايتي پوهه يې په يوه مخصوص کلتوري چاپېريال کښې زده کړې وه چي د دراوۍ عمل ته يې ټولنيز جواز او مخصوص ادبي او جمالياتي قدر ور بخښلو.

دراوۍ يواځې د کاکړو، سنځرخيلو سره اړه نه لري، بلکۀ دغه عمل په لوڼي، دکۍ، سنځاوۍ، زيارت، موساخېل، شيراني، ږوب، چوتېر، مېختر او نورو شاوخوا سيمو کښې هم شتون لري. په زړه پوري خبره دا هم ده چي د دې سيمو سره مښتي د مري بلوڅانو او کهيترانانو په لرغوني کلتور کښې هم موږ د دراوۍ دود ليدلی شو- د دې دا معنا شوه چي د نورو کلتوري شتمنيو غوندي دراوۍ هم په جغرافيه ( سيمه) پوره اړه لري. د قبيلې يا نسل سره مشروط کول هيڅ دليل نه لري.

دراوۍ د ټولو پښتنو لرغونی دود نه دی. دا د يوه مخصوصي کلتوري ساحې د کلتوري عمل په تنيجه کښې تخليق شوی دی. دراوۍ په هيڅ ګوند يو عمومي ټولنيز دود نه دی. د انجلۍيا ځوان تر منځ دا يو اختياري (آپشنل) او په زياتره ځايونه کښې يو اٹتثنائي عمل دی.

د دراوۍ عمل پر مجلس ار چورلي، په دې کښې د انجلۍ يا هلک ظاهري ښائيست يا کړۀ وړۀ ډېر اهميت نه لري. د مجلس يا ورثې کولو مهارت چي د کوم ځوان يا انجلۍ زده وي نو هغۀ دراوۍ ته دوام ورکولې شي.

د بوري او ږوب په سيمو کښې د فوکلوري اصنافو ډېرښت او پائېښت د ځينو نورو ټولنيزولاملونه سره سره د دراوۍ په سوب هم دی.ولي چي دراوۍ په نورو کلتوري ساحو کښې نشته يک يواځې دلته شتون لري. د دراوۍ په حقله په دې مالې کښې يواځې د نارينه تناظر وړاندي شوی دی، که چيري د ښځينو تجربې واورېدل شي او ريکارډ کړل شي نو دا هم امکان شته چي نوري په زړه پوري لاملونه منځته راشي.

## حوالې

1-Tashrihi Qamoos Pashto Glossary [Academy of Sciences Kabul] http://www.qamosona.com/j/index.php last accessed Aug 22,2018(
2-Pashto English Dictionary, Ahmad Wali 2015, http://www.qamosona.com/j/index.php last accessed Aug 22,2018
3- Zahid Qamoos Pashto Glossary [Zahid Mishwani], http://www.qamosona.com/j/index.php last accessed Aug 23, 2018
4) اڅکزی، خان شهید عبدالصمد خان، زما ژوند او ژوندون، لخوا پښتونخوا خوروني، دریم ټوک،چاپ کال ۲۰۰۷، مخ ۲۲
5) Balochistan District Gazetteers Series Loralai District,Reprinted by Directorate of Archives G. O.Balochistan, Spinzar Printers Quary Road Quetta, 3rd Edition, 2004, p.115
6) عارف، سید خیرمحمد ، د غاړو ادبي څېړنه، پښتو ادبي ملګري لورالائي، کال ۱۹۹۵، مخ۹۹
7) ثقافت وادیٔ بولان میں، ناشر نظامت ثقافت حکومت بلوچستان، گوشہ ادب کوئٹہ، اشاعت دوئم 2013، ص 71–72
8) https://dictionary.abadis.ir/fatofa last accessed on Aug 24th 2018
9) اڅکزی، خان شهید عبدالصمد خان، زما ژوند او ژوندون، لخوا پښتونخوا خوروني، دریم ټوک،چاپ کال ۲۰۰۷، مخ ۲۳
10) جلالپوري، علي عباس، رسوم اقوام، تخلیقات لاهور، ۲۰۱۳، مخ ۳۷
11) تکتو ، شماره نمبر ۱۵ جلد ۸، پښتو څانګه بلوچستان پوهنتون کوئټهٔ، کال ۲۰۱۶، مخ ۵۳ تحقیقي مجله
12) عارف، سید خیرمحمد ، د غاړو ادبي څېړنه، پښتو ادبي ملګري لورالائي، کال ۱۹۹۵، مخ۹۹
13) هم دغه اثر ۹۷
14) هم دغه اثر ۱۱۲
15) کاکړ، پروفیسر سیال، پخوانۍ غاړې، پښتو فوکلور اکېډمي کوټهٔ، دسمبر ۲۰۰۶، مخ ۲۷۴
16) اڅکزی، خان شهید عبدالصمد خان، زما ژوند او ژوندون، لخوا پښتونخوا خوروني، دریم ټوک،چاپ کال ۲۰۰۷، مخ ۲۲
17) کاکړ، پروفیسر سیال، پخوانۍ غاړې، پښتو فوکلور اکېډمي کوټهٔ، دسمبر ۲۰۰۶، مخ ۲۹۶
18) ژړک-صادق، بلې، تکتو مجله جلد ۸ شماره ۱۸، پښتو څانګه بلوچستان پوهنتون کوټهٔ، کال ۲۰۱۶، مخ ۳۰
19) ارمغان خوشحال، مقدمه سید رسول رسا، یونیورسټي بُک ایجنسي پېښور، دویم چاپ ۲۰۰۱، مخ ۴۷۳
20) کاکړ، پروفیسر سیال، پخوانۍ غاړې، پښتو فوکلور اکېډمي کوټهٔ، دسمبر ۲۰۰۶، مخ ۲۷۰
21) عارف، سید خیرمحمد ، د غاړو ادبي څېړنه، پښتو ادبي ملګري لورالائي، کال ۱۹۹۵، مخ۹۴
22) همدغه اثر، مخ
23) همدغه اثر، مخ
24) همدغه اثر، مخ
25) همدغه اثر، مخ